

په کابل کې د ننيو اعدامونو په اړه د يوناما بيانيه

کابل، د ۲۰۱۶ کال د مې ۸ مه – د ملګرو ملتونو لخوا د اعدام د سزا دعملي کولو لپاره د يوه قانوني مهلت د ورکولو له دوامداره غوښتنو سره سره ، يوناما د خطرناکو او د بشري جرمونو په تور د شپږو تورنو کسانو په اعدام خواشيني څرګندوي.

ملګري ملتونه دا يادونه کوي، چې د اعدام د جزا په اړه داسي هيڅ پريکنده ارزښتمند شواهد نشته او ددغې درنې او سختې سزا عملي کول د خلکو له امنيت سره هم مرسته نکوي.

يوناما د افغانستان دولت هڅوي، چې قانوني اصلاحاتو ته سرعت ورکړي، چې پربنسټ يې د اعدام سزا په عمري بند بدله شي.

***